مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی
د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز

تحلیل هفته

**شماره: ۲۰۴** (از ۲ الی ۹ ثور ۱۳۹۶ هـ ش)

**این نشریه مجموعهٔ تحلیل رویدادهای مهم سیاسی و اقتصادی هفته‌وار است که به زبان‌های پشتو، دری، انگلیسی و عربی، توسط مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی تهیه و نشر می‌گردد، تا نهادهای سیاست‌گذار و پالیسی‌ساز از آن استفاده نمایند.**

---

## آنچه در این شماره می‌خوانید:

مقدمه ........................................ ۲

### د بلخ خونړۍ پېښه او د حکومت د سولې او جګړې تګلاره

پر ۲۰۹ شاهين قول اردو بريد او د «ولې» ځواب ........................................ ۴

پر شاهين قول اردو بريد؛ غبرګونونه او اغېزې ........................................ ۵

د ملي يووالي حکومت د سولې او جګړې تګلاره ........................................ ۵

### ادارهٔ جدید امریکا و آیندهٔ روابط کابل – واشنگتن

روابط حکومت وحدت ملی با ادارهٔ ترامپ ........................................ ۸

سفر وزیر دفاع امریکا به کابل ........................................ ۹

آیندهٔ روابط کابل- واشنگتن ........................................ ۱۰

## مقدمه

په بلخ کې د افغان ځواکونو پر ستري پوځي اډې، د طالبانو په يوه تاکتيکي برید کې د ملي اردو سرتېرو ته درنه مرگ‌ژوبله واوښته. دغه برید په ملي او نړیوالو رسنیو کې په پراخه کچه منعکس شو او له کبله يې افغان ولسمشر په هېواد کې يوه ورځ ملي ماتم هم اعلان کړ.

که څه هم دا لومړنی او وروستی خونړی برید هم نه دی، چې افغان ځواکونو ته درنه مرگ‌ژوبله پکې اوړي؛ خو بیا هم د دغه برید څرنگوالی څه دی؟ او په ټوله کې د افغان حکومت د سولې او جگړې تگلارې پر دغه وضعیت څه اغېزې کړې؟ د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز د اوونيز تحليل په لومړۍ برخه کې يې په اړه شننه لولئ.

د تحليل په دويمه برخه کې د امريکا له نوې ادارې سره د ملي وحدت حکومت د اړيکو او په افغانستان کې د امريکا د راتلونکې تگلارې په اړه لولئ. په تېرو څو ورځو کې د امريکا د متحده ایالاتو دوه جگ‌پوړي چارواکي افغانستان ته راغلل او دا سفرونه د افغانستان په اړه د امريکا پر اوسنۍ تگلاره د ټرامپ د ادارې د بیاکتنې برخه بلل کېږي. دا چې د ټرامپ له ادارې سره د ملي وحدت حکومت اړيکې په څه وضعيت کې دي، کابل ته د دغه هېواد د دفاع وزير سفر څه پيغام درلود او دغه راز افغان حکومت او متحده ایالات په راتلونکي کې څه غواړي؟ دا او دې ته ورته پوښتنې د تحليل په دې برخه کې ځواب شوې دي.

# د بلخ خونړۍ پېښه او د حکومت د سولې او جګړې تګلاره



تېره اوونۍ طالبانو په بلخ کې پر ۲۰۹ شاهین قول اردو خونړی بریدو کړ. د افغانستان د دفاع وزارت د وروستیو څېړنو له مخې، په دغه برید کې د ملي اردو نژدې ۱۴۰ تنه سرتېري وژل شوي او تر ٦۰ زیات ټپیان دي. شاهین قول اردو د هېواد یوه له لویو او په شمال کې د ۹ ولایتونو په کچه تر ټولو ستره قول اردو ده. د برید پرمهال په دغه قول اردو کې تقریباً ۳۰ امریکایي پوځیان هم وو.

دا پېښه داسې مهال کېږي، چې تراوسه د افغانستان په تړاو د امریکا د نوې ادارې تګلاره نه ده اعلان شوې؛ خو بیا هم له یو شمېر نښو-نښانو داسې برېښي، چې امریکا به په افغانستان کې یو ځل بیا پر خپل پوځي رول ټینګار وکړي. همدا لامل دی، چې د بلخ له خونړي برید وړاندې امریکا د ننګرهار په اچین ولسوالۍ کې "د ټولو بمونو مور" بم وغورځاوه، ورپسې د امریکا د ملي امنیت سلاکار وزیر جنرال مک ماسټر افغانستان ته په نااعلان شوي سفر راغی او ورپسې څو ورځې وروسته د امریکا د دفاع وزیر جنرال جیمز متیس هم افغانستان ته په یوه نااعلان شوي سفر راغی. د امریکا د دفاع وزیر د سفر پرمهال په افغانستان کې د بهرنیو سرتېرو مشر جنرال نېکولسن هم په مطبوعاتي ناسته کې وویل، چې روسیه له افغان طالبانو سره په تېره بیا د وسلو د ورکړې په برخه کې مرستې کوي.

دا چې پر شاهین قول اردو برید ولې وشو؟ دغې خونړۍ پېښې څه غبرګونونه او اغېزې له ځان سره درلودې او له تېرو څو میاشتو راهیسې د ملي یووالي حکومت د سولې او جګړې تګلاره څه ده؟ دلته پرې شننه کوو.

## پر ۲۰۹ شاهین قول اردو برید او د «ولې» ځواب

د ثور په لومړۍ نېټه (۱۳۹٦) غرمه مهال شاوخوا یوه بجه طالب جنګیالیو په نظامي یونیفورم او له خاورو ډکو رینجرو کې د بلخ په دهدادي ولسوالۍ کې پر شاهین قول اردو بریدوکړ. دوی په یوې پلمې او تاکتیک سره په دوو رینجرو کې د طالبانو غړو ته سپرومونه تپر کړي وو او امنیتي ځواکونو ته یې داسې ښودله چې دوی دلته د فاریاب له کومې جګړې څخه د علاج په موخه راغلي دي.

د شاهین قول اردو په لومړیو دوو دروازو کې یوازې د دوی د هویت کارډونه وکتل شول؛ خو کله چې په دریمه دروازه کې د وسلو د اخیستلو غوښتنه ترې وشوه، نو جګړه پیل شوه. دغه جګړه د افغان امنیتي ځواکونو لپاره خونړۍ وه او په تېره ١٦ کلنه جګړه کې دا برید د افغان ځواکونو پر یوې ستړې پوځي اډې (قول اردو) تر ټولو خونړی برید و.

د افغان طالبانو ویاند ذبیح الله مجاهد په خپله ټویټرپاڼه د دغه برید مسؤولیت ومانه او د برید کوونکو نومونه او انځورونه یې خپاره کړل. د طالبانو ویاند دا برید په شمالي ولایتونو په تېره بیا د کندز او بغلان ولایتونو لپاره د طالبانو د والیانو د وژل کېدو غچ اخیستنه وبلله او دغه راز یې دا برید د خپلو پسرلنیو عملیاتو مقدمه هم وګڼله.

خو دلته دري پوښتنې زیږي:

**لومړی**؛ دا چې ولې له تېرو څو کلونو راهیسې د افغانستان د امنیتي ځواکونو په لیکو کې داخلي نفوذي بریدونه زیاتېږي؟ که یوازې د تېرو څو میاشتو بریدونو ته ځېر شو، نو له مخې یې څرګندېږي، چې په دغو بریدونو کې له داخل څخه همکاري شوې، په تېره بیا د کندهار مېلمستون په کوچنو کې د بمونو نصبول، د کابل د ۴۰۰ بستریز روغتون پېښه او پر شاهین قول اردو برید. د افغان طالبانو په اند، د بلخ پر قول اردو برید کې څلور داخلي کسان هم له طالبانو سره مل وو.

**دویم**؛ په شاهین قول اردو برید کې مسلکي غفلت شوی او ترڅنګ یې دغه پېښه دا هم په ننبه کوي، چې امنیتي سیستم څومره ناقص دی. د بېلګې په توګه، په لومړیو دوو دروازو کې د تلاشۍ نشتون، له بهر څخه راتلونکو موټرو ته اجازه (پرته له دې چې ناروغان د قول اردو کوم امبولانس ته انتقال شي) او داسې نور. دغه راز، د یو شمېر رسنیزو راپورونو له مخې، له دغه برید وړاندې داسې استخباراتي راپورونه هم ورکړل شوي وو، چې د بلخ په قول اردو کې به د غرمنۍ پرمهال برید کېږي. له دغو استخباراتي راپورونو سره سره، بیا هم د دغه برید د مخینوي په برخه کې ولې ګام نه دی پورته شوی؟

**درېيم**؛ په اچين ولسوالۍ کې "د ټولو بمونو مور" له استعمال وروسته، د هېواد يو شمېر پخوانيو چارواکو د يوه خونړي بريد وړاندوينه کوله. د دوی دا وړاندوينه د شاهين قول اردو بريد په بڼه راووتله؛ خو د طالبانو لهخوا يې له مسؤوليت منلو وروسته، يوازې يوه پوښتنه پاتې کېږي او هغه دا چې آيا د داخلي او بهرنيو ځواکونو لهخوا دغه بريد ته زمينهسازي شوې وه؟

## پر شاهين قول اردو بريد؛ غبرگونونه او اغېزې

پر شاهين قول اردو بريد په هېواد کې دننه پر امنيتي او سياسي سکتور اغېزې وکړې. له يوې خوا پخواني ولسمشر حامد کرزي، چې د طالبانو په تړاو يې په دې وروستيو کې نرم دريځ غوره کړی و او دوی ته به يې د «وروڼو» خطاب کاوه، هم اغېزمن کړ او له دغه بريد وروسته يې طالبانو ته د «ورور» خطاب نه کولو پرېکړه وکړه. په بل اړخ کې د هېواد دننه د قول اردو مشران له يوه ځايه بل ته تبديل کړای شول او د دفاع وزير او لوی درستيز استعفاوې وركړې.

په بل اړخ کې، دغه بريد د افغان ځواکونو په مورال تاثير وکړ او په هغوی کې يې جنگي روحيه نوره هم پياوړې کړه، چې دا بيا په اوږدهمهال او د اوږدمهالې سولې په لاره کې هېڅمهال هم مرستندوی نه دي.

## د ملي يووالي حکومت د سولې او جگړې تگلاره

د ملي يووالي حکومت له جوړېدو راهيسې، افغان حکومت د بهرني سياست له لارې له طالبانو سره د سولې غوښتونکی شو. د چين او پاکستان له لارې يې غوښتل، چې طالبان د سولې خبرو اترو ته حاضر کړي. په دې برخه کې يوازې د افغانستان-پاکستان-چين-طالبانو خبرې اترې، د مري ناسته او خبرې اترې او څلور اړخيزو خبرو اترو پنځه ناستې وشوې. د لومړۍ پروسې په ناستو کې طالبانو خپل استازيتوب رد کړ، په دويمه پروسه کې يې رد نه شو کړای او په څلور اړخيزو مذاکراتو کې يې بيا له گډون څخه انکار وکړ.

همدا لامل دی، چې له دوهنيمو کلونو وروسته، د ملي يووالي حکومت د سولې راوستلو دغه تگلاره ناکامه بلل کېږي. د ملي يووالي حکومت د څلور اړخيزو خبرو اترو پرمهال، چې پکې د طالبانو گډون ناکام برېښېده، له حزب اسلامي (حکمتيار) سره د سولې خبرې اترې پيل کړې. له حزب اسلامي سره د سولې خبرې اترې برياليۍ شوې او پايله يې د سولې د يوه تړون په بڼه راووتله.

له حزب اسلامي سره د سولې له تړون وروسته، په قطر کې د افغان حکومت او طالبانو ترمنځ د پټو ناستو خبرونه هم رسنیو خپاره کړل؛ خو ترې وروسته، په تېرو څو میاشتو کې د سولې په تړاو نه کوم گام اخیستل شوی او نه هم د حکومت په سیاست کې څه بدلون راغلی. بلکې برعکس افغان حکومت په دې برخه کې گېچ دی.

په بل اړخ کې له تېرو څو میاشتو راهیسې، افغان حکومت د سولې تگلارې پرځای د وسلهوالو مخالفینو پرضد د جگړې تگلاره په مخه کړې. د بېلگې په توگه د طالبانو پرضد پراخ عملیات (چې پکې د طالبانو د کندز او بغلان ولایتونو والیان هم ووژل شول) او پرضد یې تونده ژبه کارول کېږي. په دې تړاو د افغانستان د ملي امنیت شورا سلاکار حنیف اتمر تېره میاشت په جلال‌اباد کې په یوه غونډه کې وویل، چې «موږ به په خپل ټول توان سره له طالبانو سره وجنگېږو او طالبان به سولې ته اړ باسو.»

د ملي یووالي حکومت له دغې جنگي روحیې سره، افغان حکومت د جگړې په ډگر کې هم کومې پام‌وړ لاسته‌راوړنې نه دي لرلې، بلکې برعکس پر افغان امنیتي ځواکونو بریدونه زیات شوي دي، چې پر شاهین قول اردو برید د حکومت د دغې جنگي تگلارې د ناکامۍ غټ دلیل دی.

د دې ترڅنگ افغان طالبان هم د ملا اختر محمد منصور له مرگ راوروسته، د سولې په تړاو څرگنده تگلاره نه لري. داسې برېښي، چې طالبان په دې برخه کې وېشلی دریځ لري او همدا لامل دی، چې تر اوسه د سولې په تړاو پرېکنده تگلاره نه لري.

د افغان حکومت د سولې او جگړې پلې شوې تگلارې ته په کتلو سره ویلای شو، چې اوسمهال له حکومته هم یا لاره ورکه شوې او یا په شعوري توگه روانه تگلاره تعقیبوي، هغه چې نه به سوله راولي او نه هم امنیت. خو بیا هم، که دواړه افغان حکومت او طالبان د زور له لارې او یا هم هر یو له یوه قوي دریځ څخه غواړي چې د سولې پروسې ته دننه شي، نو د سولې دا پروسه به هېڅمهال هم پیل نه شي، چې ښکاره بېلگې یې وروستي څو کلونه دي.

# ادارهٔ جدید امریکا و آیندهٔ روابط کابل – واشنگتن



جنرال جیمز مَتیس وزیر دفاع ایالات متحدهٔ امریکا در یک سفر از قبل اعلام نشده (در ۲۴ اپریل ۲۰۱۷) به کابل آمد و هدف سفر خویش را بررسی وضعیت امنیتی افغانستان عنوان کرد. او در یک نشست خبری مشترک با جنرال جان نیکلسن قوماندان عمومی نیروهای ناتو در افغانستان، سال ۲۰۱۷م را یک سال پرچالش برای نظامیان افغان خواند، اما تعهد کرد که امریکا در کنار این نیروها ایستاده خواهد بود.

پس از روی کار آمدن ترامپ به حیث رئیس جمهور امریکا، این دومین مقام بلندرتبهٔ امریکا است که از افغانستان دیدن می‌کند. پیش از این نیز مشاور امنیت ملی ایالات متحدهٔ امریکا به افغانستان آمده و در دیدار با سران حکومت وحدت ملی، بر ادامهٔ همکاری و حمایت امریکا از افغانستان تاکید کرد.

اینکه روابط حکومت وحدت ملی با ادارهٔ ترامپ چگونه است، هدف سفر اخیر وزیر دفاع امریکا به کابل چه بود و همچنان آیندهٔ روابط امریکا و افغانستان چگونه به نظر می‌رسد؟ در این تحلیل روی آن پرداخته شده است.

## روابط حکومت وحدت ملی با ادارۀ ترامپ

پس از انتخابات سال ۲۰۰۴ ایالات متحده، برای اولین بار هر دو نامزد پیشتاز در مبارزات انتخاباتی خویش روشن نساختند که بعد از پیروزی چگونه سیاستی در رابطه به افغانستان خواهند داشت، حتی در این مبارزات در رابطه به قضیۀ افغانستان صحبتی نداشتند. به همین دلیل نگرانی‌های حکومت افغانستان و نیز کشورهای منطقه را دربارۀ برخورد حکومت جدید امریکا با قضیۀ افغانستان به وجود آورده بود.

پس از پیروزی دونالد ترامپ در انتخابات ریاست جمهوری امریکا، رهبران حکومت وحدت ملی، پیروزی او در انتخابات را به او تبریک گفتند و خواستار گسترش روابط دوجانبه شدند. چندی بعد دونالد ترامپ در گفتگوی تلیفونی بارئیس جمهور غنی، در کنار این که از وی دعوت کرد تا از امریکا دیدن کند، تاکید نمود که ایالات متحدۀ امریکا همچنان در کنار دولت و مردم افغانستان خواهد بود. غنی نیز در عرصه‌های مختلف خواستار همکاری امریکا با افغانستان شد.

علاوه بر این، اشتراک وزیر خارجۀ افغانستان در نشست وزرای ائتلاف جهانی مبارزه با گروه داعش که به میزبانی امریکا در واشنگتن برگزار گردید، نیز گامی مهمی در روابط حکومت وحدت ملی با ادارۀ ترامپ بود.[1] در آن نشست، افغانستان از ادارۀ جدید امریکا خواست تا نیروهای نظامی بیشتر را به هدف مبارزه با گروه داعش به افغانستان بفرستد.

"جنرال مک ماستر" مشاور امنیت ملی امریکا نخستین مقام بلندرتبۀ آن کشور بود که پس از روی‌کار آمدن ادارۀ جدید امریکا به هدف بررسی وضعیت افغانستان به کابل آمد و بارئیس جمهور، رئیس اجرائیه و مشاور امنیت ملی افغانستان روی مسایل گسترش روابط دوجانبه، مبارزه با گروه‌های مسلح و مسایل منطقوی بحث و گفتگو کرد. مک ماستر در کنار این که از تداوم همکاری‌های امریکا با افغانستان اطمینان داد، خاطر نشان ساخت که آوردن اصلاحات در ادارات افغانستان مهم است و حکومت باید افراد متعهد را در ادارات بگمارد.[2]

باآنکه از آغاز ریاست جمهوری دونالد ترامپ حدود سه ماه می‌گذرد و برای بررسی روابط دوجانبه زمان کمی است، ولی روابط کابل-واشنگتن نسبت به نیمۀ اول در نیمۀ دوم این مدت به خصوص با سفر وزیر دفاع آن

[1] وزارت امور خارجۀ افغانستان: http://mfa.gov.af/fa/news/foriegn-minister-participate-in-defeat-isis-world-coalition-ministerial-meeting

[2] ارگ ریاست جمهوری: http://president.gov.af/fa/66600

کشور به کابل، فعال‌تر به نظر رسید. چون از یک‌سو ادارۀ ترامپ جدیدا آغاز به کار کرده و از سوی دیگر پالیسی خویش در مورد افغانستان را نیز بازنگری نکرده بود.

## سفر وزیر دفاع امریکا به کابل

وزیر دفاع امریکا هنگامی به افغانستان سفر کرد که در هفته‌های نخست سال ۱۳۹٦ هـ ش، افغانستان شاهد حادثه‌های مهم بود. استفاده از (مادر همه بمب‌ها) از سوی نیروهای امریکایی در ولسوالی اچین ولایت ننگرهار که ظاهراً هدف آن از بین بردن مواضع گروه داعش بود[3]. و وقوع حملۀ مرگبار بر قول اردوی ۲۰۹ شاهین در ولسوالی دهدادی ولایت بلخ که در آن بیش از ۱۴۰ سرباز اردوی ملی کشته و ده‌ها سرباز دیگر زخمی شدند و مسؤولیت آن را نیز طالبان به عهده گرفت. از همین جا بود که سفر وزیر دفاع امریکا همزمان با اعلام خبر استعفای وزیر دفاع افغانستان صورت گرفت.

جیمز متیس در دیدار با رئیس جمهور افغانستان روی مسایل امنیتی افغانستان و منطقه، مبارزه با گروه‌های مسلح و همکاری‌ها میان دو کشور در عرصه‌های مختلف بحث و گفتگو کرد. وزیر دفاع امریکا در این دیدار اظهار داشت که «ماموریت ما در افغانستان به پایان نرسیده و ما در کنار دولت و مردم افغانستان باقی خواهیم ماند.» متیس همچنان افزود که «حضور ما در افغانستان برای هدف نیک است و ما باید دیپلوماسی و امور نظامی خویش را با همدیگر هماهنگ و مرتبط بسازیم.» علاوه بر این او خواستار اقدامات حکومت وحدت ملی در زمینه‌های اصلاحات، حکومتداری خوب و مبارزه با فساد اداری در افغانستان شد.رئیس جمهور افغانستان نیز تاکید کرد که حکومت افغانستان برای آوردن اصلاحات و مبارزه با فساد اداری متعهد است. او خواستار گسترش و تقویت روابط میان دو کشور شد. گفته می‌شود که در این دیدار در رابطه به افزایش سربازان امریکایی در افغانستان نیز گفتگو شده است.

وزیر دفاع امریکا در یک کنفرانس خبری مشترک با جنرال جان نیکلسن قوماندان عمومی ماموریت حمایت قاطع ناتو در افغانستان گفت که حمایت امریکا و جهان از افغانستان در مبارزه با گروه‌های مسلح ادامه خواهد یافت؛ اما سال ۲۰۱۷م را برای نیروهای نظامی افغان یک سال پرچالش و دشوار عنوان کرد. در کنار این، او

---

[3] هرچند "مادر همه بمب‌ها" به هدف از بین بردن تونل‌های جنگجویان داعش پرتاب گردید، ولی در این مورد تحلیل‌های مختلف وجود دارد که در شمارۀ 203 تحلیل هفتۀ مرکز مطالعات استراتیژیک و منطقوی روی آن پرداخته شده است: http://csrskabul.com/pa/?p=3514

گفت که نگرانی امریکا در مورد همکاری روسیه با طالبان افزایش یافته و در این زمینه با روسیه از راه سیاسی و دیپلوماتیک برخورد خواهند کرد، اما در صورتی که روسیه خلاف قوانین بین‌المللی عمل کند مانع آن خواهند شد.

سفر وزیر دفاع ایالات متحده در حالی صورت می‌گیرد که از یک‌سو ایالات متحدۀ امریکا در روزهای اخیر تصویب پالیسی خویش در مورد افغانستان است و از سوی دیگر امریکا از نقش روسیه و ایران در افغانستان به خصوص از روابط با طالبان نگران است، به همین دلیل تلاش می‌ورزد تا این روابط را تقویت بخشد و به نحوی جلو روسیه و ایران در افغانستان را بگیرد.

## آیندۀ روابط کابل- واشنگتن

گرچند در سال‌های ۲۰۰۱ تا ۲۰۰۸ م حکومت افغانستان روابط خوبی با جمهوری خواهان داشت، اما این بار جمهوری خواهان در رأس ادارۀ امریکا در شرایط متفاوت و با یک شخص متفاوت روی‌کار آمدند. از یک‌سو در حال حاضر فضای سیاسی امریکا و روابط با جامعۀ بین‌المللی وارد یک مرحلۀ جدید شده و از سوی دیگر اظهارات ضد و نقیض دونالد ترامپ در قبال موضوعات مختلف و شخصیت غیر قابل پیش‌بینی او به خصوص عدم وضاحت پالیسی او در رابطه به افغانستان، مسائلی اند که روی چگونگی آیندۀ روابط افغانستان _ امریکا تاثیر خواهد داشت.

دولت افغانستان به همکاری و پشتیبانی امریکا وابستگی دارد، به همین دلیل پس از ایجاد حکومت وحدت ملی بلافاصله موافقتنامۀ امنیتی دوجانبه با امریکا به امضاء رسید و این مسأله یکی از عواملی نیز به شمار می‌رود که پروسۀ صلح افغانستان را با بن‌بست مواجه ساخته است. زیرا از یک‌سو طالبان مخالف ایجاد پایگاه‌های نظامی خارجی‌ها در افغانستان است و از سوی دیگر، کشورهای منطقه (به عنوان مثال روسیه و ایران) نیز مخالف این پایگاه‌ها استند. با این هم، حکومت افغانستان تاحدی از پالیسی ادارۀ ترامپ در مورد قضیۀ افغانستان نگران است، چون نظر به دانش و تجربۀ ترامپ در رابطه به افغانستان و مسایل مربوط به افغانستان، هر زمانی احتمال تغییر پالیسی و تصمیم او در رابطه به قضیۀ افغانستان وجود دارد.

درحالیکه حکومت وحدت ملی بقای خود را در حمایت‌های واشنگتن و همین موافقتنامه می‌بینند و هیچ کشور دیگری میلیاردها دالر برای امنیت، اقتصاد و سایر بخش‌ها به حکومت افغانستان نخواهد داد. اما برای پایان

دادن جنگ و رسیدن به صلح با طالبان باید روی همین روابط و حمایت‌ها معامله کرد، چیزیکه در حال حاضر برای حکومت افغانستان ممکن به نظر نمی‌رسد. بنابراین، حکومت وحدت ملی برای بقای خویش و ادامهٔ جنگ با مخالفین خویش از هر راه ممکن برای جلب حمایت ایالات متحده امریکا و برقراری روابط حسنه تلاش خواهد کرد.

در جانب دیگر، مشاور امنیت ملی امریکا که سفرش به کابل بخشی از بازنگری استراتیژی ادارهٔ کنونی ایالات متحده در مورد افغانستان بود، پس از بازگشت به واشنگتن گفت که به دلیل کاهش فعالیت نظامی امریکا در افغانستان، طالبان فعالیت شان را دو برابر کرده است. قوماندان عمومی نیروهای ناتو در افغانستان نیز از ادارهٔ جدید امریکا خواستار اعزام سربازان بیشتر امریکایی به افغانستان شده است.

باآنکه سیاست ترامپ در قبال افغانستان تاکنون به درستی پیش‌بینی شده نمی‌تواند، چون او در یک‌ونیم دههٔ گذشته اظهارات ضد و نقیض دربارهٔ قضیهٔ افغانستان داشته است و در میدان سیاست نیز تجربهٔ کافی ندارد، ولی از یک‌سو پرتاب "مادر همه بمب‌ها" در خاک افغانستان و بالعکس روشن نبودن موقف ادارهٔ جدید آن کشور در مورد پروسهٔ صلح افغانستان و از سوی دیگر، اظهارات مقام‌های امریکایی پیرامون روابط روسیه با طالبان در کنار اینکه از افزایش سربازان امریکایی در افغانستان نیز سخن زده می‌شود، در حال حاضر ادارهٔ ترامپ به تقویت حضور نظامی خویش در افغانستان بیشتر توجه خواهد کرد و به جنگ در این کشور شدت خواهد بخشید. چیزیکه سرنوشت جنگ و صلح در افغانستان را بیش از پیش پیچیده‌تر خواهد ساخت.

پایان

**ارتباط با ما:**

ایمیل: info@csrskabul.com csrskabul@gmail.com

وب سایت: www.csrskabul.com - www.csrskabul.net

شمارهٔ تماس دفتر: 784089590 (93+)

**ارتباط با مسؤولین:**

دکتور عبدالباقي امین، رئیس مرکز مطالعات استراتژیک ومنطقوی: 789316120 (93+) abdulbaqi123@hotmail.com

حکمت الله ځلاند، مسؤول بخش پژوهش‌ها و نشرات: 775454048 (93+) hekmat.zaland@gmail.com

**یادآوری:** لطفا نظرات و پیشنهادات خود را جهت بهبود مطالب این نشریه به ما ارسال دارید.